Baghlan University Academic Research Journal
https://baghlan.edu.af/ Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 61-73

# Of the gamil Big mystical concept

**Nasratullah Ghashtaly**

Department of Pashto Language and literature, Literature Faculty, Baghlan University, Afghanistan.

**Corresponding Author:** Nasratullah Ghashtaly, **E-mail**: n.ghashtaly@j.com

**Article Info**

**Article Type:** Research Article

**Article History:**

**Received:** 28, July, 2024

**Accepted:** 5, May, 2025

**Published:** 15, June, 2025

**ABSTRACT**

After a long analysis and research, it became clear to me that in the middle literary period of Pashto language and literature, Jameel Baig also gave his best mystical thoughts. He is also a wise person, to help analyze his idea. The examples of his poetic words that have come to our hands, from the interpretation and analysis of these poetic pieces and examples, it can be seen that he was also a wise person. The purpose of this research paper is twofold. One; Familiarity with the mystic thought of Faqir Baba, and secondly, if God willing, this research paper will be helpful to the lovers and followers of the mystical profession in the future.

**Keywords:** Mysticism,Mystical Literature, Thought, Poetry and Jameel Baig.

To cite this article: Ghashtaly, N. : 2025. Of the gamil Big mystical concept **.** Baghlan University Academic Research Journal, Vol. 13, Issue. 1, Serial No. 36 - Spring (2025), 61-73. License: RCTD – GNJR – 0018 - 23.

Publisher: University of Baghlan

د بغلان پوهنتون علمي او څېړنيزه مجله

مجله علمی ـ تحقیقی پوهنتون بغلان

https://baghlan.edu.af/ Vol 13. Issue. 1, Serial No. 36 (2025) 61-73

# د جمیل بېگ عرفاني افکار

پوهنیار نصرت الله غښتلی

د بغلان پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي، د پښتو ژبې او ادب څانگه.

اطلاعات مقاله

نوع مقاله:
مقاله علمی- تحقیقی

تاریخ دریافت:
۱۴۰۳/۰۵/۷ هـش

تاریخ پذیرش:
۱۴۰۴/۰۲/۱۵ هـش

تاریخ انتشار:
۱۴۰۴/۰۳/۲۵ هـش

**لنډيز**

له خورا اوږده تحلیل او څېړنې څخه وروسته دا راته  څرگنده شوه، چې د پښتو ژبې او ادب په منځنۍ ادبي دوره کې جمیل بېگ هم تر خپله توانه عرفاني افکار پنځولي دي. په دغه څېړنیزه مقاله کې د نوموړي شاعر د مفکوروي  تحلیل د بیان لپاره د نورو لیکوالانو بېلابېل آثار لوستل شوي دي، چې تر څو د ده د مفکورې په تحلیل کې مرسته وکړي. د ده د شعري کلام کومې بېلگې چې زموږ لاس ته راغلي دي، د یادو شعري ټوټو او بېلگو له تفسیر او شننې څخه دا پایله تر لاسه کېږي، چې دی هم یو عارف شخصیت تېر شوی دی. د دې څېړنیزې مقالې موخه دوه اړخونه لري. یو؛ د فقیر بابا د عرفاني فکر سره اشنا کېدل او دویم  دا چې که خدا (ج) کول په راتلونکي کې  به دغه څېړنیزه مقاله د عرفاني مسلک له مینه والو او پلویانو سره مرستندویه واقع شي.

**کلیدي کلمې:** عرفان، عرفاني ادبیات، فکر، شعر او جمیل بېگ.

استناد: غښتلی، نصرت الله. (۱۴۰۴)، د جمیل بېگ عرفاني افکار، مجله علمی-تحقیقی پوهنتون بغلان، شماره۱، بهار (۱۴۰۴)، شماره مسلسل ۳۶، دور۱۳. (۶۱-۷۳) .
ناشر: پوهنتون بغلان.

**سریزه**

د پښتو ژبې او ادب په منځنۍ ادبي دوره کې چې کوم شاعران تېر شوي دي هر یوه یې د خپل وس او توان په اندازه د دې ژبې ته خدمت کړی دی. په یاده ادبي دوره کې خوشحال بابا او د هغه کورنۍ نشو هېرولای. دا چې زمونږ د بحث موضوع په منځنۍ ادبي دوره کې د ( جمیل بېګ عرفاني افکار) تر سرلیک لاندې غوره شوې ده، د دغې موضوع ټاکل ځکه اړین وګڼل شول چې د نوموړي شاعر د مفکورې اړوند د پښتو ژبې او ادب په کتابونو کې لکه څنګه چې اړینه ده هغسې څرګندونې نه لیدل کېږي، د بېلګې په توګه سرڅېړونکي زلمي هېوادمل په خپل یو اثر ادبتاریخ کې چې په ( ۱۳۹۷ هـ) کال کې چاپ شوی دی، د فقیر بابا اړوند یې یوازې څو کرښې راوړې دي، چې په دغه تړاو په دغه اثر کې نور څه نه لیدل کېږي. په همدې ترتیب پوهاند دوکتور اجمل ښکلي په خپل یو اثر( تصوف او ادب) کې چې په (۱۳۹۷ هـ) کې چاپ شوي دی، په دغه اثر کې هم یوازې یوه شعري بېلګه لیدل کېږي، چې دا هم بسنه نه کوي. دا او دې ته ورته یو شمېر نور آثار هم در واخله، چې دغه مطالب د موضوع ستونزه بیانوي. د موضوع اهیمت د ستونزې له بیان څخه څرګند دی، ځکه د نوموړي جمیل بېګ په عرفاني فکر لا تر اوسه پورې په هغه اندازه چې اړینه ګڼل کېږي څېړنه نه ده تر سره شوې؛ نو ومې غوښتل چې دغه اړخ روښانه کړم. هره علمي کړنه ځانګړې موخه لري، زما د دې لیکنې موخه د عرفان او د عرفان د کلمې لغوي او اصطلاحي پېژندنه، جمیل بېګ او د هغه عرفاني مفکوره نورو ته بیانول دي.

**لیکنې تګلاره:** ښکاره ده چې د دې څېړنې اصلي موضوع د جمیل بېګ عرفاني افکارو ته کتنه ده؛ نو د کتابتونې او تحلیلي میتودونو څخه په ګټه اخیستنې سره به په خپلې اصلي موضوع پیل وکړو.

**د جمیل بېګ ژوند او حالات**

جمیل بېګ چې د پلار نوم یې شهباز خان دی. د پښتو ژبې او ادب د ستر شاعر خوشحال خان خټک سکنی او کشری ورور دی.په (۱۰۲۴هـ . ق) کال کې یې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي(ښکلی، ۱۳۹۷: ۱۰۹).

میا وکیل شاه فقیر خېل په خپل اثر د (تحقیق په رڼا کې) د فقیر بابا اړوند دا سې لیکي: (( د خوشحال ورور چې جمیل خان دی، په ادب کې یې جمال خان یادوي، په روحاني دنیا کې د خواجه جمال الدین او فقیر بابا په نومونو باندې یاد شوی؛ خو ډېر شهرت په فقیر بابا لري، چې د تصوف دغه نوم یې په ټولو نومونو غلبه مونـدلې ده. دی ادیب، شاعر او عارف و. چې د

خوشحال اولادې ته يې خان خيل ويل او د فقير بابا يا جمال خان اولادې ته يې مياګان ويل))(فقيرخېل،۲۰۰۲:۱۳۰).

سر څېړونکي زلمي هيوادمل هم په خپل ادبتاريخ کې د جميل بېګ په اړه خپل نظر راوړی دی، چې زه به يې دلته لنډيز راوړم: شهباز خان ختټک د خپلو اولادونو د درس او تعليم لپاره شاه ويس ملتانی استخدام کړی و؛ نو له احتمال څخه لرې نه ده، چې جميل بېګ به سواد او د علومو مبادي له همدغه شاه ويس څخه زده کړې وي؛ خو وروسته يې د شيخ رحمکارکاکا صاحب تر مريدۍ لاندې خپلې زده کړې پيل کړې، جميل بېګ خپل ټول مال او شتمني په غرباوو وويشله او خپله د شيخ رحمکارکاکاصاحب مريد شو.کاکاصاحب پرې ځانګړی پام کاوه، همدا لامل و، چې د عرفان لوړو پوړو ته ورسېد او له رموزو يې خبرشو(هيوادمل، ۱۳۹۸ : ۱۴۸).

پوهاند دوکتور اجمل ښکلی په خپل يو اثر کې چې تصوف او ادب نومېږي، د جميل بېګ په اړوند دا سې ليکي: (( فقير جميل بېګ په تصوف کې د چشتيه طريقې پيرو او ډېر اشخاص يې مريدان وو.  فقير بابا په پارسي کې ډېر لوي آثار کښلي دي. نوموړی جميل بېګ تر شپېته کلنې تصوفي مجاهدې وروسته پر( ۱۱۱۶هـ ق) کال پېښور ته پر لاره ځينو رخګرو وواژه، چې د تنګاړ درګۍ ترمينځ دره کې خاورو ته وسپارل شو. د مزار شاوخوا خلک يې ځان د ده اولاده بولي او دوی د فقير خېلو په نامه يادېږي))(ښکلی، ۱۳۹۷ : ۱۰۹ـــ ۱۱۱).

دا چې د جميل بېګ کورنۍ يوه مشهوره او سرداره کورنۍ تېره شوې ده؛ نو پوښتنه دا را ولاړېږي چې جميل بېګ ولې فقيري غوره کړه؟ د دغسې پوښتنې په ځواب کې به د مناقب شيخ رحمکار کاکا صاحب څخه چې د جميل بېګ يو اثر دی، د فقيرۍ د غوره کولو څو لاملونه په تحليلي توګه راوړو. يو؛ کله چې د ده پلار شهباز خان شهيد شو؛ نو جميل بېګ هم په هغه مهال کې ټپي شو، وروسته له دې واقعې څخه دی د خپل ورور سره په اس سور شو، د خپل پلار د وينو بدل يې واخيست، تر هغې وروسته يې فقيري غوره کړه. د ختکو او مندړو اکا خيلو تر مينځ جګړه چې په (۱۰۵۰هـ . ق) کې وشوه، جميل بيګ د (۲۶) کلو زلمی و، نو د ده په روح او روان يې اثر وکړ دا ځکه؛ چې په هغه مهال کې د جنګ هغه ناوړه پېښو او د وينو بهېدو يو لړ وحشت را منځته کړ او ده له دغه ډول پېښو څخه د انزوا حالت غوره کړ، ځکه نو په دغه مهال کې د جميل بېګ پلار شهباز خان ټپي او د هغه د اکا زوی ساقي بيګ د جنګ په ميدان کې مړ مونده شو او همدارنګه دی او د ده ورور هم ټپيان شول.دوه؛ جميل بېګ چې په دغه جګړه کې له خپل ورو سره د هغه د

لارښوونې لاندې کوم حرکتونه پیل کړل او د دښمن مقابل لور ته په میړانه ودرېده، سره ددې چې خپل ورور سره اوړه په اوړه وجنګېده؛ نو بیا هم مقابل لورته د زیان رسېدو په وجه د هغه حساس او روښانه زړه کې یو ډول بدلون رامنځته شو. درې؛ د خټکو د قبیلې شکست هم کېداې شـــې د ده په روان یې یـــو لږ اثر کړي وي.کله چـــې د ده پلار شهباز خان له دې نړۍ څخه په هغه مهال کې سترګې پټې کړې؛ نو په دغه وخت کې شاجهان امپراطور له هندوستان څخه د لاهور په لور د جګړ سنګه د سرغړونې او پاسون لپاره را ستون شوی و، چې تر څو هغه وځپي، په دغه مهال کـــې د خوشحال ورور جـــمیل بیګ غوښـــتل، چـــې د سردارۍ او خانۍ د اقتدار د ساتلو لپاره له نوموړي امپراطور سره لیدنه کتنه وکړي، په دغه وخت کې خوشحال خان هم له دې واقعې اطلاع موندلې وه، ګوندې د ده ورور غواړي تر څو د خانۍ او سردارۍ لپاره تابیا ونیسي؛ نو خوشحال خان هغه را وغوښته او ورته یې وویل، چې تر څو یو له دوي څخه د امپراطور مقام ته ورشي.دا چې خوشحال خان د شهبازخان مشر زوی و؛ نو غوښتل یې چې د سردارۍ او خانۍ واګې په خپل لاس کې ونیسي، جمیل بېګ هم د دې لپاره چې خوشحال خان د پلار مشر زوی دی، بله دا چې د دوی په کورنۍ کې جګړه او دښمني را مینځ ته نشي؛ نو نه یې غوښـــتل چې خاني وکړي. خـــپل ټول مال او شتمني یې بې وزلانو ته ووېشله او د سردارۍ څـــخه یې ځان خـــلاص او پیـري یې غوره کـــړه(خټک، ۱۳٦۵: ۹٦ ، ۹۸).

**د جمیل بېګ آثار**

له ځینو څېړنو وروسته جوته شوې، چې له جمیل بېګ څخه ځینې عرفاني آثار را پاتې دي؛کوم چې لاندې راوړل شوي دي.

۱. تذکرة الاولیا

۲. نورمحمدیه

۳. خلاصةالطالبین

۴. شمس العارفین

۵. اسرارول عاشقین

٦. زیدالساکنین

۷. تحفةالمقرین

۸. قدوة عارفین

۹. مناقب شیخ رحمکار کاکا صاحب خټک (فقیرخیل، ۲۰۰۲: ۱۳۲).

وړاندې مو هم دا یادونه وکړه، چې جمیل بېګ یو عرفاني شخصیت تېرشوی دی؛ خو اصلي موضوع ته له ورتګ وړاندې اړینه ده، چې د عرفان او تصوف دواړو کلمو پېژندنه وکړو.

**تصوف:** د تصــوف د علم او کلمې په اړه پوهانو بېلا بېل تعریفونه کړي دي، چې دلتــه به یې ځیني ولولو. د تصوف د علم اړوند شیخ القران والحدیث خلیفه دین محمد په خپل یو اثر کې چې انوار شمسیه فی مقامات صوفیه نومېږي دا سې نظر لري: (د زړه د مرضونو علاج، د انسان د نفس او د انسان د ظاهر او باطن صفایي، د لـــوړو اخــلاقــو څــښتنېدل او د بدو اخــلاقــو څــخه ډډه کـــول د تصـــوف په عـــلم پـــورې اړه لـــري)( دین محمد، ۱۴۴۱: ۲۸، ۲۹). د صوف لغوي مانا د وړیو رخت دی، د ډېرو څېړونکو خیال دی، چې د (صوف) اغوستونکي ته صوفي ویل کېږي، د امام ابو القاسم قشیري او ابن خلدون په اند تصوف له (صوف) څـــخه زېږېدلی دی. ابن خلــدون وایي: ((څرنګه چې د وړیو لباس د اهل تصوف لپاره ځانګړی و؛ نو ځکه ورته صوفي وویل شـــو، د وړیو لباس پخوانیو بزرګانو ته ډېر مرغوب وه؛ ځکه چې زهدو تقوا ته لنډ وه، له همدې کبله دا د پیغمرانو(ص) لباس وه.ځیني څېړونکي عقیده لري، چې تصوف( الصف) څخه اخیستل شوی، چې صف کتار او سلسلې ته وایي)). امام قشیري فرمایي: ((تصوف له صوف څخه مشتق دی، ځکه چې د صوفیانو زړونه د خدای(ج) په حضور کې د اعتبار له مخې په ړومبي صف کې دي))( ناګار، ۱۳۹۴: ۱۹ ـ ۲۲). شیخ القران والحدیث خلیفه دین محمد په خپل یو اثر کې چې دقایق التصوف نومېږي د صوفي د لفظ په اړه دا سې لیکي : ( دا چې د تصوف لفظ له څه څخه ماخوذ دی بېلابېل توجیهات یې بیان شو ي دي، ځیني یې وجه دا بیانوي چې له اصحاب صفه سره د دوی د محبت او مناسبت له امله د (واو ) په زیادت سره صوفي ورته وایي)(دین محمد، ۱۴۴۵: ۳). یو لړ پوهان تصوف له فلسفې سره تړي او وایي چې صوف اصلا(ص) نه بلکې په (س) دی، چې په یونان کې د فلسفې مانا ورکوي.علامه ابـــو ریحان البیـــروني په خپل اثر(ماللهند) کې همدا نظر وړاندې کوي او وایي:(( صوفیان هم فیلسوفان دي، ځکه په یوناني کې سوف د فلسفې مانا ښیندي او فیلسوف ته فیلاسونا(د فلسفې مینه وال) وایي؛ نو په اســـلام کې هم هغه چـــاته چـــې له دوی ســـره یې ورته والی درلوده، صـــوفي وویـــل شو))( حبیبي، ۱۳۹۹: ۱۴). په اصطلاح کې صوفي هغه څوک دی، چې د ناوړه هیلو نه پاک شوی وي او له خلکو څخه ګوښه او ټول کارونه یې خپل الله (ج) ته سپارلي وي(نظري، ۱۳۹۷: ۲۴).

**عرفان:** د عرفان د کلـــمي په اړه پـــوهانو بېلا بېل تعریفونه کړي دي، چـــې له هـــغو څخه به ځیني ولولو.د عرفان کلمه په عربي ژبه کې د پېژندنې مانا ورکوي.عرفان د اصطلاح له مخې خداي پېژندنې ته وايي، خو دا پېژندنه پر فلســـفي او مادي استدلال، نه تر سره کېږي، بلکې د مسلمان د روح، زړه، وجدان او د عمل د سپېڅلتیا پر بنسټ تحقق مومي(ناګار، ۱۳۹۴: ۱۰). عرفان په لغت کې د عین په زېر سره د خـــدای تعالی پـــېژندنې ته وايي یا پېژندنه وروســـته له ناپوهې څخه.په اصطلاح کې عرفان هغه علم دی، چې د اسلامي شـریعت پیـــروي او د خداي د ذات او صفاتو پېژندنه د ذکر په واسطه، د ظاهر او باطن پاکوالی او د دې پر بنسټ د مسلمان روحي سیر د الهـــي مـــعرفت او رحمت په لوري؛ تر څو قرب او بشپړتیا ومـــومي عرفان بلل کېږي( اسحاق زی، ۱۳۹۳: ۲).

## د جمیل بېګ په منظوم کلام کې عرفاني بېلګې

د جمیل بیګ عرفاني منظومې چې زموږ لاس ته راغلي دي، تر ډېره حده پکې د عرفان پېژندنې خوند او رنګ دواړه لیدل کېږي، د بېلګې په توګه به هغه غزلې راوړو، کومې چې میاه وکیل شاه فقیر خېل د پرو فیسور محمد افضل رضا څخه را نقل کړي دي؛ خو د دغو غزلو په اړه داسې ویل شوي دي، چې ځیني لیکوالان وایي دغه غزلې د فقیر بابا نه دي؛ مګر د دې خبرې په غبرګون کې بیا میاه وکیل شاه فقیر خېل خپله خـــبره په دې توګه اثبات ته رسوي، دی وایي: ((د فقیر بابا نوم جمیل خان و، خو هغه تر اوسه پورې په جمـــیل خان نه یادېږي، بـــلکې په خـــپل خاندان کې په جمال خان شهرت لري، په ادبي دنیا کې یې نوم جمال یا جمال خان و او په روحاني دنیا کې په فقیربابا او خواجه جمال الدین یاد شوی دی))(فقیر خېل، ۲۰۰۲: ۱۳۷).

**لومړی غزل:**

ویــــښته سپین سترګې تاریکې جینګې داړې
تــــــــه لاګرځې خپل پردي په خښ نغاړې
خــــــدای طاعت د پاره ورځ له تانه غـــواړي
تــــــــــه دکالو خرڅې نن له خدایه غواړې
شوې په کوم عمل غره چې خوشحال ګرځې
ســــــــــخي خو هم د موږي په زور کـــراړې
ستـــا په ســـر باندې بې ترس جلات ولاړ دی
کـــــــوم زمان به دې ســـــر پرېکړه په ولاړې

( فقیرخېل، ۲۰۰۲: ۱۳۷)

په پورتني غزل کې وینو، چې فقیر بابا په اخلاقي رمزي عرفاني ژبه نصیحت کوي، د ځان غره کېدل منع کوي ځوانان او زاړه د الله ^(ج)^ اطاعت ته را بولي؛ نو دا هم ورته وایي چې که چېرته ځان د خدای په لاره برابر نه کړې، یوه ورځ به دې نا څاپه سر له تنه غوڅ شي.

**دویم غزل:**

خـــراب زړه چـې مـې بیمار وو هغه نه دی
چـــــــــې مـدام په انتظار وو هغه نه دی
چـــــــې مې ســــترګې د یار لورته نیولې
تــــــش دیدن یې په باربار وو هغه نه دی
چـــــې به ستا په غم کې شب روز جلیا وم
بـــــــل په زړه کې مې انګار وو هغه نه دی

چـــــــــې بندي د ستاپه زلفو په کمند ووم

پـــــروت گردن ته مــــــې زنار وو هغه نه دی

چـــــــــې مې سر مال تا لاستا په وصلت وو

چـــــــــــې په ما د فلك وار ووهغه نه دی

نام وننـــــــــــګ چې ستا په کور وه له ماتلې

چیرې ماتـــــــــــــه چې ازار وو هغه نه دی

ســـــــــــتاله غمه چــې یودم په قلار نه ووم

چـــــــــــې په سترگو کې خار وو هغه نه دی

چـــــــــې مې ستا د حسن خیال چېرې لیدلی

تـــــــــــــازه گل چــې په شار وو هغه نه دی

جــــــــمال ســـــتا له مــــخه نورو ته سلام که

چـــــــــــې غلام او خدمت گار وو هغه نه دی

(فقیرخېل، ۲۰۰۲: ۱۳٦).

په پورتني غزل کې وینو، چې فقیربابا د عرفان کلمې او اصطلاحات چې (زړه، یار، زنار...او نورې) دي ذکر کړي دي، خپل غزل یې په عرفاني رنګینو الفاظو ښایسته کړی، د معرفت ور یې ځانته خلاص کړی او خپل یارته یې ځان ورنږدې کړی دی،دې ته ورته غزلې یې نورې هم لیدل کېږي

**درېیم غزل:**

خېل خانه به دې تر څه حــده همـــراه وي

یـــوه ورځ به دې ســـفر شـــي په ویجاړې

مــــور پــلار زامـن نمسي دې گورې څه شو

خـــلقـــــې کــــړې د اجـــل سورو تاړې

ښایسته ښـــه چــونږ زلمي شو تورې خاورې

پرې پرتـې دي د لــــــحد خـــاورې تو داړې

جماعـــت ځـــخه تېرېږې مخ ترې پټ کړې

وحـــــجرې وته ته یـــــــــون کړې د حراړې

درستــه ورځ لکه سپک ناست يې په صحرا کې

بل خـــــــندا په قهقه کــــــړې لکه خرناړې

یـــــــــوه زره دلاالـــه ویره نـــــه شـــي

نه پوهـــېږم چې راج پوت يې کـــه کمـــــاړې

چې نیــکي در ځخه نـشـــته بــــد خو مه کړه

راشـــــــه مه توکه په خـــــــپله گیـــره لاړې

د ســــــپرلي خــــــویونه یــو درځخه نشته

وچ لانده ســــره ســـــېــــــزې ســپېره اهاړې

ســـم له لاســـه کار هـــر گوره ډېر مشکل دی

جمـــــال خانه وقت دې دادی که ځان ژاړې

( فقیرخېل، ۲۰۰: ۱۳۵).

په پورتني بې مطلع غزل کې وینو، چې فقیر بابا په عرفاني رمزي ژبه داسې وايي: په دې دنیاکې به له تا سره د خپلې کورنۍ غړي ترکومه مله وي، یوه ورځ به له دې دنیا ځخه سفر وکړې، په قبرکې به یوازې ژوند پیل کړې، د وحشت او دهشت هغه کورته به ورشې، کوم چې نور تنکي ځوانان هم ورغلي او تا

په خپلو سترګو لیدلي دي؛ نو بیا هم دنیایي کارونو ته ارزښت ورکوي او له عــقبا ځــــخــه دې مخ اړولی دی، درسته ورځ دې په لهو لعب سر دی، له الله(ج) څخه یوه زره ویره هم نه لري، که ښه نه کوي، نو له ځان سره خو بد هم مه کوه، په تا کې د ښو اعمالو یوه زره هم نشته، پخپله خپل ځان په اور کې ولې سېزې.

اوس به هغه منظومې عرفاني بېلګې راوړو کومې چې ده په بېلابېلو مواردو کې ویلي دي او د عرفان پېژندنې رنګ پکې ښکاري.

هـــغه مـــوزیان به دنــــــیا غواړي

دې عـــــاشقـــانو ستا په لارکې اوبازله

ســــرو مـال تـول عاشــــقان دا ؤکا

دا مـــوزي تش لافي کوي چې مین یمه

(فقیرخیل، ۲۰۰۲: ۱۴۴).

څنکه چې فقیربابا یو عارف دی، دغه رنګه عرفاني ټوټې له خولې څخه وتلې او ویل به یې: موزیان به دنیا غواړي او تشې نشې لافې به کوي؛ عاشقان به په خپل رب سر او مال قربانوي؛ نو په پورتنیو بیتونو کې د( عاشق) کلمه د عرفاني فکر پخلی کوي. په تاریخي روایتونو کې راځي چې یوځل د مغلو د واکدارۍ په زمانه کې د اټک صوبدار پر خلکو ډېر ظلم کړی و او د هغې سیمې خلک یې ټول بندیان او لوټ کړي وو، مال او شتمني یې ترې اخیستې وه، د ســــیمې خلـــک فقیر بابا ته په ژړا راغلل، چې زموږ خلک را خلاص او مالونه مو د وخت ظالم صوبدار څخه واخلي، کله چې دوی د ظالم صوبدار سره مخامخ شول؛ نو په صوبدار رپېدا راغله اوتې بوتې یې شروع کړې؛ نو فقیر بابا ورڅخه مال او خلک ازاد کړل. په دغه مهال کې فقیر بابا په کښتۍ کې سپور شو او دغه منظومه یې وویله.

څوک به درومي خدای دپاره

فقـــــیر درومي خدای دپاره

پـــاک رســول ورسره مل دی

بـــــــدرگه له چـــهاریاره

(فقیرخیل، ۲۰۰۲: ۱۴۱ـ ۱۴۲).

دا چــــې د پورتني شعري کلام په دوو لومړیو نیم بیتو کې فـــقیر بابا د خدای(ج) د رضا لپاره له خلکو سره ستــون شوی او غواړي چې د الله رضا خپله کړي؛ نو دا د هغه د عملي عرفان یوه غوره اخلاقي عرفاني بېلگه بللای شو.

جمیل بیگ دکاکا صاحب د وفات په وخت کې چې د هغه د خاورو سپارولو مراسیم وه دغه منظومه ټوټه وویله.

پـه بـوي دې ټول عالم خوشبــوي شو

اصـلي چندڼه په تــا پــرې وتل گردونه

(فقیر خېل، ۲۰۰۲: ۱۳۹).

په پــورته نیــم بیتو کې وینـــو چې جمـــیل بېـــگ بابا د خپل پیر او مرشد ستاینه په ډېر ښکلي انداز سره کړې ده.

جمیل بېگ چې کومې پښتو ټوټې ویلي دي، ځیـــنې یې په تحفت الاولیاء کې خوندي شوي دي، د هغو له ډلې څخه یې یو څو بېلگې دلته د هغه د عرفاني مفکورې د بیان لپاره راوړم.

پـه دې خوړکې سره او سپین انبارانـبار دي

فـقیر نـه اخلي او نه یې څــــه پــکار دي

اخون چالاک څو مـره چې اخلي وادې خلي

کــــه خـــــواري نـــه وي دی دې نــــه وي

(فقیرخېل، ۲۰۰۲: ۱۳۹).

په پورته ذکر شوې لومړۍ نیم بیتۍ کې فقیر بابا د(خوړ) کلمه راوړې ده، چې موخه ورڅخه دنیا ده یعنې هغه دنیا چې د ادم (ع) د پیدایښت نه تر نن ورځې پورې د سیلاب په څېر روانه ده، بله موخه یې په دې نړۍ کې د انسانانو ژوند دی ځکه خو خوړ هغه ځای ته وایي چې اوبه هر څه له لوړو غرونو څخه راوړي او بې ارزښته پراته وي، لکه؛ تیږې، شګې، بوټي لرګـــي او ... ټولو هغو مادي اجناسو ته اشاره ده،کوم چې په یوه خوړ کې پراته وي یعنې که د سرو زرو په شان هم وي؛ خو بیا هم فقیر بابا داسې یوه طریقه غوره کړې ده، چـــې هر څـــــه ته یې شـــا ور اړولې. دا خو څرګنده ده چې د جمیل بېګ له نیکه څخه نیــولې د خوشـــحال بابا تر پېړ پورې شتمن ول، خپله فقیر بابا هم شتمن و، خو کله چې ده مردي غوره کړه؛ نو هر څه یې په خپل ځای پرېښودل. خو دلته د یوې خبرې یادول اړین دي هغه دا چې د فقیر بابا د دنیا پرېښودل په دې مانا نه دي کوم چې په اسلامي شریعت کې ناروا عمل بلل کېږي.

**پایله**

ادبیات د انساني ټولنـــــــې په ډګر کې د بېلابېلو پیښو انځورګري په هنري بڼه کوي، پښتو ادب چې لرغونې او تاریخي مخینه لري، یو لړ سیاسی، تاریخي او ټولنیزو واقیعتونو تر څنګ په کې تصوفي او عرفاني اثار هم د تاریخ په پاڼو کې په زرینو کرښو ثبت شوي دي.جمیل بېګ هم د پښتو ادب په بڼ کې عرفاني اشعار ویلي دي، ډېر اثار یې لیکلي دي، چې ټول یې عرفاني رنګ لري، نوموړی یو عارف شخصیت وه،کومې ټوټې او غزلې چې له ده څخه را پاتې دي په دې ټولو کې د معرفت او روحانیت څرکونه له ورایه څرګند دي او مونږ دې پایلې ته رسوي چې دی یو عارف دی.

**اخځلیکونه:**

۱ـ اسحق زی، اورنګزیب.(۱۳۹۳). عرفان او ادب. جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۲ـ حبیبي، سراج احمد.(۱۳۹۹). عرفاني ادبیات.کابل. سمون خپرندویه ټولنه.

۳ـــ ختک، جمیل بیګ.(۱۳٦۵). مناقب شیخ رحمکار. کابل: پوهنځی تاریخ وفلسفه پوهنتون کابل.

۴ـ دین محمد.(۱۴۴۱). انوار شمسیه. کابل بګرامي فاروق آباد: خانقاه عالیه مجددیه عمریه.

۵ ـ دین محمد.(۱۴۴۵). دقایق التصوف. کابل: مکتبه شمس المشایخ.

٦ـــ ښکلی، اجمل.(۱۳۹۷)تصوف او ادب.جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۷ـ فقیرخیل، میاه وکیل شاه.(۲۰۰۲). د تحقیق په رڼا کې. پیښور: محمدرسول پښتو اکاډمی.

۸ـ ناګار، فضل ولي.(۱۳۹۴). عرفان. ننګرهار. ناګارخپرندویه ټولنه .

۹ـ نظري، محمود.(۱۳۹۷).تصوف.کابل: اسد دانش مطبعه.

۱۰ـ هیواد مل، زلمی. ادبتاریخ.(۱۳۹۳) . دانش خپرندویه ټولنه.